**د بیرنۍ خپریدا لپاره**

**افغانستان د افغانستان روشن غوره لیگ د شنه لوبغالي د پنځم پړاو پیلیدو ته چمتو دی!**

د ۱۳۹۵ کال د وري ۱۷مه - د افغانستان د فوټبال فدراسیون، روشن، په افغانستان کي مخکښ مخابراتي شرکت او موبي گروپ، د افغانستان تر ټولو لویه رسنیزه ډله د افغانستان روشن غوره لیگ د پنځم پړاو د ټاکنیزو سیالو چي د شنه لوبغالي په نامه یادیږي د اعلانولو ویاړ لري. دا به سږ کال د افغانستان روشن غوره لیگ د سیمه ایزو ټورنمنټونو پیل وي چي ټاکل شوي ده د کب میاشتي له ۲۰ نیټي شروع او وروسته د هیواد په اتو مختلفو زونونو کي په لاره واچول شي.

موږ هیله لرو چي هغه شور او زوږ چي تیر کال د دي لیگ لپاره موجود وو یو ځل بیا را ژوندی کړو. د «۱۳۹۴ افغانستان روشن غوره لیگ» د هغو ځوانو فوټبالپسټانو لپاره د افغانانو د شور او زوږ شاهد وو چي د افغانستان له گوټ گوټ څخه له فوټبال سره د مینې او لېوالتیا په پار او د افغانستان روشن غوره لیگ د اتلولۍ د جام د گټلو لپاره له یوبل سره په سیالی بوخت شول.

**الطاف لدک، د روشن مخابراتي شرکت د عملیاتي چارو عمومي رئیس** وویل: " روشن د افغانستان روشن غوره لیگ له پیل څخه له دې لیگ څخه ملاتړ کړی دی تر څو افغانانو ته داسي فرصتونه برابر کړي چي دوی خپل مهارتونه وښیي او په ملي کچه وځلیږي. خو له دې څخه مهمه بیا دا چي داسي نوښتونه به افغان ځوانانو ته چي د افغانستان د نفوس ډیری برخه جوړوي، داسي فرصتونه ورکړي تر څو په نړیواله کچه په غټو ټورنمنټونو کي هم ښه وځلیږي."

**د افغانستان د فوټبال فدراسیون ریيس، کرام الدین کریم،** وویل: " د افغانستان د فوټبال فدراسیون ډیر زیات خوشحال دی چي موږ د افغانستان روشن غوره لیگ د پنځم پړاو پیل ته نږدې کیږو او هڅه کوو تر څو د غوره لیگ دا پړاو د نورو ځلورو پړاوونو په څیر په بریالیتوب پای ته ورسیږي .

یو ملت یو غږ د افغانستان روشن غوره لیگ شعار دی او دا لیگ په دې توانیدلی دی چي په عمل کي هم همدا شعار پلی کړي، دې لیگ نړیوالو ته وښووله چي فوټبال کولای شي په یاد شعار باندې ډیر اغیز ولري .

د افغانستان د فوټبال فدراسیون له موبي گروپ او د روشن له مخابراتي شرکت سره په گډې همکاری کي په دې توانیدلی دی چي دا لیگ په تیرو ځلورو کلونو کي په سم ډول تر سره کړي. سږ کال موږ یو ځل بیا هیله لرو چي دا لیگ له هغه نه هم ښه او لا ډیر برم سره تر سره شي."

**شفیق گوهري،د موبي گروپ اجرائیه رئیس او د افغانستان روشن غوره لیگ کمېشنر، وایی چي: "** د روشن افغانستان غوره لیگ په افغانستان کي تر ټولو غټ مسلکی لیگ او تر ټولو لویه فوټبالی پیښه په افغانستان کي ده چي د افغانستان لپاره د هیلي نښه ده .د روشن افغانستان غوره لیگ ټول ښځینه او نارینه ځوان لوبغاړي د راتلونکي نسل لپاره د نیکمرغی نښه ده .د روشن افغانستان غوره لیگ ځوانانو ته دا ثابته کړې ده، که چیری هغوی زیار وباسي نو کولای شي خپلو هیلو ته ورسیږي."

**د افغانستان روشن غوره لیګ په اړه:**

د 1395 کال د شنه لوبغالي هېښوونکي سيالی به په حقيقت کې د افغانستان روشن غوره لیګ د پنځم پړاو د لوبو پیل وي، هغه لیګ چې په هيواد کې د مسلکي فوټبال لومړنی لیګ دی. دا لیګ په پوره توګه د «فیفا» او د «آسیا د فوټبال کنفدراسیون» له لارې ملاتړ کېږي. د لوبې ټول قوانين او قاعدې د «فیفا» او د «آسيا د فوټبال کنفدراسيون» سره سمون لري. «د افغانستان روشن غوره لیګ» ټولې لوبې په ژوندۍ بڼه د «طلوع» او «لمر» ټلويزيونونو او همدارنګه د «آرمان اف ام» او «آراکوزيا» راډيوګانو له لارې خپرېږي. دا لوبې په کيبلي ټلويزيونونو او په آنلاين بڼه هم خپرېږي. د دې سياليو د څارلو لپاره د افغانستان غوره لیګ سایټ www.AfghanPremierLeague.com ته مراجعه وکړئ!

**د روشن مخابراتي شرکت په اړه:**

روشن (دافغانستان دمخابراتو د پراختيا شرکت) د افغانستان مخکښه مخابراتي کمپنی ده چې تر ۶/۵ میلونو څخه ډیر فعاله پیرودونکي او تر ټولو غوره شبکه لري چې د هیواد په ۳۴ ولایتونو کې د ۲۸۷ څخه ډیرې ولسوالی او ښارونه يې د پوښښ لاندې راوستي دي.

روشن د افغانستان د برياوو ښه نمونه ده چې د هيواد په پرمختګ کې فعاله ونډه لري. په ۲۰۰۳ کال کې د فعاليت پيلولو څخه تر دې دمه يې په افغانستان کې ۶۰۰ میلونه ډالره پانګه اچونه کړې ده او د هيواد تر ټولو لويه پانګه اچوونکې او ماليه ورکوونکې کمپنی ده چې د افغانستان د کلني داخلي عوايدو تقريبا ۵ سلنه برابروي. روشن په مستقيمه توګه ۹۰۰ افغانان په کار ګمارلي چې دهغو له جملې څخه ۱۹ سلنه يې ښځې دي. او همدارنګه ۳۵۰۰۰ افغانانو ته يې په غير مستقيمه توګه د کار آسانتيا برابره کړې ده.

روشن د افغانستان بيارغوني او پرمختګ ته هراړخيزه ژمنتيا لري. د اقتصادي پرمختګ لپاره د آقا خان سيما (AKFED)، چې د آقا خان د پرمختيايي شبکې(AKDN) يوه برخه ده، د روشن تر ټولو ډير پانګه اچوونکې دی چې په وروسته پاتې هيوادونو کې د اقتصادي زيربناګانو او شخصي تشبثاتو څخه ملاتړ کوي. همدارنګه دروشن يو اندازه پانګه اچونه د موناکو ټيليکام انټرنيشنل (MTI) او تيليا سونيرا له خوا تر سره شوې. روشن افغانستان ته نړيوال مهارتونه راوړي او د افغانانو لپاره د باکيفيته شبکې چمتو کولو ته ژمن دي.

د روشن په اړه د لا نورو معلوماتو لپاره www.roshan.af يا http://www.facebook.com/RoshanConnects ته مراجعه وکړئ. تاسو همدارنګه کولای شی موږ د ټویټر له لارې @roshanconnects تعقيب کړئ.

**د افغانستان د فوټبال فدراسیوان په اړه (AFF):**

«د افغانستان روشن غوره لیګ» د افغانستان د فوټبال فدراسيون تر مالکيت لاندې دی. دا فدراسيوان په هېواد کې د فوټبال د ورزشي کړښې (برخې) د اداره کولو مسؤل دی، چې په ۱۳۲۷ کال کې د فيفا غړی شو. د افغانستان د فوټبال فدراسيون يو غير دولتي بنسټ دی چې خپل فعاليتونه يې د ۱۳۰۰ هجري لمريز کال راپه دې خوا پيل کړي دي. دا فدراسيون يو غيرانتفاعي بنسټ دی چې د داسې يوې فضا د جوړولو غوښتونکی دی چې د فوټبال لېوال کسان وکولای شي د فوټبال پراخې ټولنې سره وتړل شي او د هغې يوه برخه ووسي. دا فدراسيون د ټورنمنټونو، ليګونو او د جامونو له لارې په افغانستان کې د فوټبال څو ډول (فوټبال، ساحلي فوټبال، فوټسال، د سړک فوټبال او داسې نورو لپاره) بېلابېل ښوونيز کورسونه په لاره اچوي. «د افغانستان د فوټبال فدراسيون» د «فوټبال نړيوال فدراسيون (فيفا)» له خوا په رسميت پېژندل شوی دی او کارکوونکي يې له مسلکي پلوه د فيفا او د «افغانستان د فوټبال فدراسيون» له خوا منل شوي دي.

**د موبي ګروپ په اړه:**

«موبي ګروپ» د محسني کورنۍ له خوا پرانیستل شوی دی. دې شرکت خپل کارونه په ۱۳۸۱ کال (په افغانستان کې له جګړې څخه وروسته) د لومړنی خصوصي راډيويي شبکې یعني آرمان اف ام په لاره اچوني سره پیل کړل. له هغه نه وروسته، دې ډلې په یو مخکښ رسنيز او تفريحي شرکت بدلون وموند، څنګه چې د ۱۰۰۰ کارکوونکو څخه زیات کسان یې په ۱۷ بېلابېلو سوداګريزو برخو او ۷ بازارونو کې په کار ګومارلي دي. د دې شرکت مرکزي دفتر په **دبی استوډیو سیټي** کې دی او څه د پاسه ۳۰۰ میلیونه کسان له مرکزي آسیا څخه د آفریقا تر شمال پورې د دې ډلې د خدمتونو د پوښښ لاندې دي. موبي ګروپ د جوړیدو څخه تراوسه، په پرمختللې، د پرمختګ په حال کې، او د دریمي نړۍ په بازارونو کې د رسنيزو دندو او کِسبونو په جوړولو کې بې‌ساري مهارتونه او تخصصونه لاس ته راوړي دي. د موبي ګروپ تګلاره (استراتيژي) دا ده چې په اوسنيو بازارونو کې بریالیتوب تر لاسه کړي، نوي فرصتونه پیدا کړي. په دې تګلاره کې هغه بازارونه چې د ډېرې مودې په بهیر کې ورته پام نه دی شوی، د ودې په حال کې دي، او یا هم په ناکاره توګه اداره کیږي، پیژاندل کیږي. همدارنګه دا ډله د نويو نوښتونو څخه په ګټې اخېستنې سره د آنلاین او ډیجیټل خپرونو له لارې «سیمه‌ییز او نړیوالې» کچې ته د خپل پوښښ سیمو ته د ودې ورکولو په هڅه کې دی.

**خپلې پوښتنې له لاندې لارې څخه له موږ سره شریکې کړئ:**

<u>**د افغانستان روشن غوره لیګ:**</u>
صمیم روحاني، د عامه اړیکو مسئول
دفتر:+93780389172
ایمیل: samim.rohany@mobygroup.com

<u>**د روشن مخابراتي شرکت:**</u>
شفیع شریفي
دفتر: +93799999065
ایمېل:Sharif.Sharifi@roshan.af

<u>**د افغانستان د فوټبال فدراسیون:**</u>
سید علي رضا آغازاده – عمومي رئیس (دبیر کُل)
دفتر: +93798898898
ایمېل: ali@aff.org.af